# لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا، فَإِذَا طَلَعَتْ فَرَآهَا النَّاسُ آمَنُوا أَجْمَعُونَ

له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا، فَإِذَا طَلَعَتْ فَرَآهَا النَّاسُ آمَنُوا أَجْمَعُونَ، فَذَلِكَ حِينَ: {لاَ يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ، أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا} [الأنعام: 158] وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ نَشَرَ الرَّجُلاَنِ ثَوْبَهُمَا بَيْنَهُمَا فَلاَ يَتَبَايَعَانِهِ، وَلاَ يَطْوِيَانِهِ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدِ انْصَرَفَ الرَّجُلُ بِلَبَنِ لِقْحَتِهِ فَلاَ يَطْعَمُهُ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَهُوَ يَلِيطُ حَوْضَهُ فَلاَ يَسْقِي فِيهِ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ رَفَعَ أَحَدُكُمْ أُكْلَتَهُ إِلَى فِيهِ فَلاَ يَطْعَمُهَا». «قيامت به تر هغه وخته نه راځي تر څو چې لمر له لوېديځ څخه راختلی نه وي، نو کله چې راوخېژي او خلک يې وګوري ټول به ايمان راوړي دا نو بيا هغه وخت دی چې : {لاَ يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ، أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا}[الانعام: 158]، يعنې هيڅ نفس ته به يې ايمان ګټه ونه رسوي پداسې حال کې چې مخکې لدې يې ايمان نه وي راوړی، او يا يې په ايمان کې نيکي نه وي کړې. او خامخا به قيامت پداسې حال کې راشي چې دوه سړيو به خپلو کې جامه (رخت ) د خرڅلاو لپاره خپور کړی وي، نو راکړه ورکړه به يې تر منځه ونه شي او نه به يې ېېرته راټول کړای شي او خامخا به قيامت په داسې حال کې راشي چې يو سړي به د خپلې اوښې شېدې - رالوشلې وي - نو وبه يې نه څښي، او خامخا به قيامت پداسې حال کې راشي چې يو سړي به خپل د اوبو ډنډ اخېر کړی وي نو اوبه به ترې و نه څښي، او خامخا به قيامت په داسې حال کې راشي چې يو سړي به مړ خولې ته پورته کړې وي خو وبه يې نه خوري».

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د قيامت له لويو نښو څخه يوه دا ده چې لمر به د ختيځ پر ځای له لوېديځ څخه راوخېژي او کله يې چې خلک ووينې نو ټول به ايمان راوړي. نو دا مهال به بيا کافر ته د هغه ايمان ګټه ونه رسوي او نه به نيک عمل يا توبه ګټه ولري. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکړ چې قيامت به ناڅاپه راځي؛ تر دې چې پداسې حال کې به قيامت راشي چې خلک به د خپل ژوند په - عادي - چارو کې بوخت وي؛ نو پداسې حال کې به قيامت شي چې پلورونکي او پېرودونکي په خپلو منځونو کې خپل کالي خپاره کړي وي، نو نه به يې خرڅ کړي او نه به يې راټول کړای شي، او پداسې حال کې به قيامت شي چې يو سړي به د خپلې اوښې شېدې په لاس کې نيولې وي نو وبه يې نه څښي، او پداسې حال کې به قيامت شي چې يو سړي به د اوبو ډنډ جوړ کړی او اخېر کړی وي نو اوبه به ترې ونه څښي، او پداسې حال کې به قيامت شي چې يو سړي به مړ خولې ته پورته کړې وي تر څو يې وخوري خو وبه يې نه خوري.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65026